مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل
۲۰۲۰/۰۵/۲۰

# د مېرمنو سملاسي مشاعره او زما يو بيت

د دوه زره شلم کال د مۍ مياشتې په اوه لسمه نېټه مې په تاند کې د «د افغان ښځو او نجونو في البديهه مشاعره» په عنوان سترګې ولګېدې، چې خلاص مې کړ، يوازې دا جمله ليکلې وه:

«د يو شمير افغان نجونو او ميرمنو سملاسي مشاعره»

او ورپسې د ګڼو ښځينه شاعرانو يو ـ يو بيت راوړل شوی و، خو په پيل کې د آغلې مرسل احمدزۍ دا دوه بيتونه راغلي وو:

زه له خپلې تلوسې درپسې راغلم
زندګۍ، له انديښنې درپسې راغلم

زه له خپل تصويره ماته، ماته غورځم
له ويشتلي آينې درپسې راغلم

ما هم له همدې بيتونو نه په الهام سره دا يو بيت في البديهه وليکه او په مشاعره کې مې ځان ورګډ کړ:

چېرې ورک شوې مساپره وير کړم ويلې
زه د دار تر غرغرې درپسې راغلم

۲۰۲۰/۰۵/۱۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ